## علی محمد مخلص:

علی محمد مخلص په پښتو کی د روښانی غورځنګ له نومیالیو شاعرانو او لیکوالو څخه دی. هغه د ابابکر کندهاری شینواری زوی دی.

ابابکر د احداد او الهداد (رشید خان) هندوستان ته لاړ. ابابکر هم د هغه په ډله کی و. نوموړی د پښتو شاعر او لیکوال و. د ((مراۀالعارفین)) او ((سراج العارفین)) د کتابونو مؤلف دی.

علی محمد مخلص په غلب ګومان د ۱۰۱۵ او ۱۰۲۰ هــ. ق. کلونو په شاوخوا کی زیږیدلی دی . څیړونکی وائی چی هغه به یا په کندهار او یا هم په تیرا کی زیږیدلی وی چی د روښانی او عسکری مرکز و او د هغه د مور پلارګنی س

سیمه وه. مشهور اثر ئی د بایزید روښان ((حالنامه)) ده چی په فارسی ژبه لیکل شوی او د شعرونو دیوان ئی د پرویز مهجور خویشکی په همت چاپ او خپور شوی دی. یوه منثوره رساله ئی هم د هندوستان په کتابتونونو کی پیدا شویده.

د علی محمد مخلص د مړینی دقیقه نیټه نه ده څرګنده، خو د هغه د دیوان او حالنامه کی د پیښو له بیان څخه ئی د مړینی نیټه د ۱۰۸۰ هــ. ق. حدود اټکلولی شو.

اتنولوجی (اتنوګرافی) : د بشر د توکم او نژاد په باب علمی څیړنو ته ویل کیږی.

## سلیمان ماکو او د هغه ((تذکرۀ الاولیاء))

سلیمان ماکو د پښتو د لرغونی دوری پیاوړی لیکوالی دی. هغه د ((تذکرۀ الاولیاء)) په نوم یو ډیر مهم اثر په پښتو نثر لیکلی دی چی له بده مرغه ټول کتاب ئې لاس ته نه دی راغلی او [illegible] د پیر [illegible] پاڼی ئی د ارواښاد استاد پوهاند [illegible] په زیار پیدا [illegible] او خپری شوی دی.

سلیمان ماکو د بارک خان صابزی ماکو زوی دی چی د کندهار په ارغستان کی اوسیده. دی پخپله وائی چی په (۶۱۲ هــ) تللی وم او د پښتونخوا په غرو او رغو کی ګرځیدم. تر دغه سفر وروسته سلیمان ماکو په دی بریالی شو چی د پښتو د نامتو لویانو د ژوند په باب د ((تذکرۀ الاولیاء)) په نوم یوه تذکره ولیکی.

د تذکرۀ الاولیاء په هغو اوو پاڼو کی چی زموږ لاس ته راغلی دی ددغو شاعرانو او لیکوالو احوال پکی راغلی دی.

۱ – بیټ نیکه ۲ – ملکیار غرشین ۳ – شیخ اسماعیل ۴ – قطب الدین بختیار

د سلیمان ماکو د نثر خو ځانګړتیاوی داسی شمیرلای شو:

۲ – دغه نثر روان او خوږ دی، بی له کږکیچ او کړلیچ دی.

ketabton.com - The Digital Library



۳– د اوږدو جملو پر ځای، لنډې لنډې جملې کاروي. یوه جمله په بله پورې نه تړي.

۴– د طبیعي مکالمې او روانو خبرو اترو بڼه لري.

۵ – جملې ئې غوځې، څرګندې او واضح دي.

۶ – که څه هم د پارسي کلمات ډیر نه راوړي او زیاتره پښتو سوچه او نږه کلمې لیکي.

۷ – د سلیمان په نثر کې تر فارسي د عربي ژبې اثر هم ډیراو درونډ ښکاري او ددې علت هم دادی چې عربي په دغو وختو کې د پښتنو درسي او دیني ژبه وه او که به چا له علمه سره مینه درلوده. هغه به عربي زده کوله.

۸ – په دې نثرکې د فعلونو تکرار هم لکه د نورو ژبو د لرغونو نثرونو په څیر تر سترګو کېږي او کله خو په پرله پسې ډول زیات فعلونه په مکرر ډول راوړي، لکه (بختیار په پښتو سندرې کړینه، اوښې تویوینه، خدای ته ناري کړینه، غلبلې کړې. پاړکې لرینه)

۹ – دغه نثر که څه هم مسجع نه دی، خو لکه د نورو ژبو پخواني نثرونه کله کله وزن لرونکي او مسجع کلمات لري د فعلونو په پای کې یو (نه) د وزن او ترنم لپاره نښلولی دی.

## حکایت

نوشیروان چې په عدل او انصاف کې مشهور و، یوه ورځ ښکار ته وتلی و، څه یې وژلي وو. کباب ئې کاوه. مالګه حاضره نه وه. خدمتګار ئې کلي لره واستاوه چې ورشه مالګه په بها راوړه چې بد رسمي ونشي، کلې به خراب شي. چا وویل: پّ دا هومره مالګه راوړل به څه خرابي کېږي.

دي وې: بنیاد د ظلم اول لږ و، هر څوک چې حاکمان کېدل، په وار وار ئې زیاتاوه، تر دې حده ورسیده.

## پښتو ولسي ادبیات

که موږ ادبیات په دې لوست کې په دوو عامو څانګو وویشو، نو دغه دوه څانګې ئې (لیکلي یا تحریري ادبیات) او (نالیکلي یا ولسي او شفاهي ادبیات) دي. * په لیکلي ادب کې هغه لیکلي او دیواني ادبیات راځي چې وخت په وخت د ځانګړو لیکوالو یا شاعرانو او ناظمانو په قلم لیکل شوي او په دیواني او کتابي بڼه تر موږ رارسیدلي دي.

- په شفاهي یا ولسي ادبیات بیا د هغه ولس غږ دي چې له لیک او لوست څخه لیرې پاتې وي او دغه سندرې چې په حقیقت کې د خلکو سندرې دي او د ولس ادبیات دي، سینه په سینه په شفاهي بڼه د

ketabton.com - The Digital Library



پښتنو د تاریخي ولسي میراث په توګه تر دې دمه رارسیدلی او یوه برخه ئې د راټولوونکو او د فولکلور د څیړونکو له خوا راټوله شوې ده.

- څیړونکو د پښتو د ولسي ادب منظومه برخه هم په دوه ډوله ویشلې ده. یوه برخه ئې (عامې سندرې) او بله برخه ئې (ځانګړې یا خاصې سندرې) دي. د لومړې برخې ویناوال څرګند نه دي او په ټول ولس پورې اړه لري، خو د دویمې برخې ویناوال ئې څرګند دي او هغه ولسي شاعران دي. په عامو سندرو کې دغه بیلابیل برخې شاملې دي. د مینډو سندرې: لکه اللو للو، پیشو – پیشو مه راځه د غرو (پلانکې ) جان داسې ویده لکه ګوډې د رنجو. یا منظوم چېستانونه، د ماشومانو سندرې، د وړو مشاعرې، کیسې او نور........
- په خاصو سندرو کې دغه برخې راځي: مقامونه ، چاربیتې، بدلې، بکتۍ، لوبې، کیسې، داستانونه او نور.....

## • ښکارندوی بوللــــه:

ښکارندوی د پشتو لرغونی شاعرې یوه وتلی څیره ده. هغه په شپږمه هجری پیړی کې په غور کې اوسیده. محمد هوتک په پټه خزانه کې د هغه د ژوند لنډ حالات لیکلی.

## په شعر کې قافیه:

قافیه: قافیه هغه ډول ( یا سره ورته) یا همغږې کلمې دې چې د مصراع په پای کې راځي او تکراریږې. په قافیه کې مهمه خبره د همغږی ده، هغه کلمې چې دغه همغږې په رامنځته شوې وې د قافیې کلمې بلل کېږې.

قافیه عربي کلمه ده، په لغت کې وروسته ته وائی، په اصطلاح کې هغه علم دی چې د دورونو له وروستیو هم آهنګیو (همغږیو) څخه بحث کوی.

د نظم اساسي رکن وزن دی او قافیه د شعر اساسي رکن نه ګڼل کېږي، بلکې قافیه د نظم یو عارضي رکن دی، ځکه موږ په ډیرو ژبو کې داسې شعرونه ګورو چې قافیه نه لري ((لکه آزاد او سپین شعرونه)).

**دور**: دور په لغت کې پیر، دوران، حرکت، څرخیدنه، د یو شي پخپل ځای حرکت او ګرځیدنی ته وائی، په اصطلاح کې د بیت یا نظم له پیل څخه د لومړې هماهنګۍ تر پایه پورې یو دور دی، په مصراع او غیر مصراع کې دورونه توپیر پیداکوی.

که د یو بیت هره مسره (نیم بیتی) قافیه ولری نو دا بیت له دوو دورو څخه جوړ شوی دی او مصراع بیت دی، که دیو بیت هماغه وروستۍ مسره قافیه ولری نو دا بیت یو دور لری او غیر مصراع دی. ردیف هم په دور کې راځي.

ketabton.com - The Digital Library



((روی)) د قافیې هغه توری دی چې له هغه پرته د قافیې همغږی نه راځی. دا په حقیقت کې د قافیې د همغږۍ د برخې (کلمې)) لومړی توری وی.

د حرکت لمخې روی په دوه ډوله ده:

مطلق روی: که چیرې د روی توری حرکت ولری، مطلق روی ورته وائې.

مقید روی: که چیرې د روی توری حرکت ونه لری مقید روی ورته وائې.

هغه قافیه چې ردیف ورپورې نه وی نښتی، مجرده قافیه بلل کیږی.

هیڅ نقصان د ساده حـــــــــسن و جمال نشته — د افــــتاب په رخسار هم خط و خال نشته

چې بدل ئې په کچکول د مهتاب خوان کړ — اعتمـــــــــــــاد د زمانې په کمــــــــــــال نشته

نښـــــــــــلولې زمــــــانې په کوم سبـــــب یم — لکـــــــــــــه ژبـــه خود زما پر و بال نـــــــشته

د کجل لکې ئې کوره شـــــــــوخې سترګې — په دا هسې خوبې شاخ د غـــــــــزال نشتــــــــه

هره لار ئې اژدهـــا دی جــــــــــهان نغرې — و بورجــــــل ته ئې د هر چا مجـــــــال نشته

چې کړه ئې د کوکـــــــــب د کار وانـــــه کړه — ولې نه وائې نـــــــــاخن د هـــــــــلال نشتـــــــه

افروخـــــــــته وی پکی تل د حسن شمـــــع — د خاطر غونـــــــــــدی فــــانوس د خیال نشته

شـــیدا ګوره هر طرف ګلګونې اوښې
هـــــیڅ خندا په دا بهار کې امسال نشته

## ادبیات د اسلام د سپیڅلې دین له نظره:

اسلام ادب زیاتې ځانګړتیاری لری یو څو ئې لاندې راوړل کیږی:

۱ – عقیدوی او اخلاقی مسوولیت

ketabton.com - The Digital Library



۲ – دنده او رسالت

۳ – بشپړتیا او هر اړخیزوالی

۴ – ریښتینولی

۵ – رغندتوب او مثبت لوری ته کتنه

# د خوشحال بابا دستارنامه:

تاسې به د خوشحال خان ختک دغه شعر خامخا اوریدلی وی:

چی دستـــــــــــــار تـــــــــــــړی هـــــــــــــزار دی

د دســــــــــــتار ســـــــــــــړی په شـــــــــــمار دی    پر دغه شعر یو

کتاب خبری کېدای شی

((دستارنامه)) د خوشحال خان ختک هغه اثر دی چی په پښتو نثر ئی لیکلی دی.

دغه منثور اثر په ۱۰۷۶هــ ق. کال کی خوشحال بابا د هند د رنتبور په زندان کی لیکلی دی. دغه وخت دی د مغولی واکمن اورنگزیب په امر په رنتبور کی بندی و. چی پخپله وائی په دی وخت کی په زندان کی یوازی وم هیڅ کتاب راسره نه وو چی تری گټه واخلم.

د کتاب د لیکلو نیټه ئی په دی مسره کی ښودلی ده:

بس دی محنت د بیلتانه

چی ددی کلمو ابجدی ارزښت (۱۰۷۶هــ ق.) کېږی.

په ((دستارنامه)) کی له سریزی ورسته په دوو بابو یا څپرکو کی د مشرتابه لپاره د شلو هنرونو او شلو خصلتونو لرل تشریح شوی دی. دغه شل هنره او شل خصلته په دی ډول راغلی دی.

اول هنر د ځان د پیژندگلوی، دویم هنر د علم چی نسب کمال باله شی، دریم هنر د خط، څلورم هنر د شعر نظم پنځم هنر د تیر اندازۍ دی، شپږم هنر د آب بازۍ، اووم هنر د آسب بازۍ، ابم هنر د ښ:ر، نهم هنر د شجاعت، لسم هنر د سخاوت ورکول، یوولسم هنر د معاشرت، دولسم هنر د اولاد د تربیت دی، دیارلسم هنر تادیب د خدم دی، څوارلسم هنر د اسباب د معشیت، پنځلسم هنر دزراعت، شپارسم هنر د سوداگری د تجارت، اوولسم هنر دتحقیق د نسب، اتلسم هنر د علم موسیقی، نولسم هنر د نرد د شطرنج دی، شلم هنر د نقاشۍ د تصویر دی.

ketabton.com - The Digital Library



د خصلتونو په باب شل خصلتونه لازمی بلل شویدی:

اول خصلت د مشورت دی، دویم خصلت د عزم، دریم خصلت د خاموشۍ دی، څلورم خصلت هنر د راستی، پنځم خصلت د شرم د حیا دی، شپږم خصلت د خلقت دی، اووم خصلت د مروت دی، اتم خصلت د عفو و کرم، نهم خصلت تمیز د تانی، لسم خصلت د عدل د انصاف دی، یوولسم خصلت د توکل دی، دولسم خصلت د تربیت، دیارلسم خصلت د خوف د رجاء دی، څوارلسم خصلت د د ملک د انتظام، پنځلسم خصلت د همت دی، شپاړسم خصلت د حلم، اوولسم خصلت د غیرت دی، اتلسم خصلت د حزم د احتیاط، نولسم خصلت د طاعت او شلم خصلت د استغفار دی.

رنتبور: په هندوستان کی د هغه وخت یو مشهور زندان و چی خوشحال بابا پکی بندی و.

ابجد: د شمیرو یو ځانګړی ډول دی، زموږ په کلاسیکه شاعرۍ کی د وخت او نیټو لپاره کارول کېږی. داسی هر توری د یو عدد (شمیر) لپاره کارول کېږی. کله چی د یو بیت توری ددغه ټاکلو عددونو په شمیر سره جمع شول نو یوه ځانګړی نیټه یا کال تری جوړیږی. د ابجد ټول توری په لاندی ډول دی:

ابجد، هوز، حطی، کلمن، سعفص، قرشت، ثخذ او ضظغ. او شمیر ئی داسی دی:

| | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ا | ب | ج | د | هـ | و | ز | ح | ط | ی |
| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ | ۹ | ۱۰ |
| ک | ل | م | ن | س | ع | ف | ص | ق | ر |
| ۲۰ | ۳۰ | ۴۰ | ۵۰ | ۶۰ | ۷۰ | ۸۰ | ۹۰ | ۱۰۰ | ۲۰۰ |
| ش | ت | ث | خ | ذ | ض | ظ | غ | | |
| ۳۰۰ | ۴۰۰ | ۵۰۰ | ۶۰۰ | ۷۰۰ | ۸۰۰ | ۹۰۰ | ۱۰۰۰ | | |

# قلمی پانګه:

قلمی پانګه هغو نسخو یا کتابونو ته ویل کېږی چی په لاس لیکل شوی او خطاطی شوی وی.

هغه لاملونه چی دغه زموږ قلمی پانګه ئی د تباهۍ سره مخ کړیده.

۱: زموږ په ولس کی د زده کړی او سواد د کچی ټیټوالی ددی لامل شوی دی چی خپله زموږ خلک خپلی دی پانګی ته پاملرنه ونه کړی. او وخت په وخت ئی له لاسه وتلی، په قبرونو او سمڅو کی ئی تر خاورو لاندی کړی او آن سوزولی ئی دی.

پرویز دانش

ketabton.com - The Digital Library



۲: د کورنیو جګړو او بهرنیو یرغلونو په لړ کی جنګ جګړو هر څه تباه کړی دی. او دغو جنګ جګړو زموږ ډیرادبیاو کلتوری میراثونه او قلمی پاڼګی له منځه وړی او تباه کړی.

۳: له بده مرغه موږ د اوږدو ناخوالو بهیرونو هم خپلو کلتوری او ادبی میراثونو راټولو او تنظیمولو ته نه یو پریښنی.

تر اوسه پوری د (۳۰۰۰) شاوخوا پښتو قلمی کتابونو څرګ لګیدلی دی. تر ټولو زیاتی نسخی د پیښور په پښتو کی اکاډمۍ کی خوندی دی، چی شمیر ئی (۵۲۰ ) نسخو ته رسیږی. او وروپسی د افغانستان د علومو اکاډمۍ کتابتون راځی چی (۱۷۷) پښتو قلمی کتابونه پکی ساتل کېږی. او د فغانستان په ملی ارشیف کی (۱۲۶) نسخی خوندی دی.

په بهرنیو هیوادونو کی تر ټولو زیاتی پښتو قلمی نسخی د انګلستان په کتابتونو کی خوندی دی چی شمیر ئی (۱۶۹) نسخو ته رسیږی. د هند په کتابتونونو کی (۱۴۴) او د پخوانی شوروی په کتابتونونو کی (۵۰) نسخی خوندی دی.

په دغو نسخو کی د تالیف لمخی ډیره زړه نسخه د سلیمان ماکو ((تذکرۀ الاولیاء)) ده چی تر۶۱۲هـ.ق. کال وروسته تالیف شویده.

او د کتابت لمخی ډیره زړه نسخه د پیرروښان ((خیرالبیان)) ده چی ۱۰۶۱هـ. ق. کال کی خطاطی شویده. او هغه اثر چی ډیری زیاتی نسخی ئی په لاس کی دی د اخوند درویزه ((مخزن الاسلام)) دی چی تر ۳۰۰ زیاتی نسخی ئی پیدا شویدی.

او دغه راز ډیری قیمتی نسخی د خوشحال خان خټک د خپل لاس لیکلی دیوان دی چی پر ۱۰۹۹هـ.ق. کال ئی کتابت کړی او د محمد هوتک پټه خزانه ده چی په ۱۳۰۳هـ.ق. کال کی ئی کتابت تر سره شویدی.

## عبدالحمید مومند

له بده مرغه د پخوانیو شاعرانو په څیر ئی د زوکړی او مړینی دقیقی نیټی نه دی معلومی. خو په دی وروستیو کی څیړونکو معلومه کړه چی حمید بابا د پیښور – کوهاټ سړک او باړی روډ پر بنی غاړه پراته کلی ماشوکګر (ماشو) کی زیږیدلی دی. د پخوانیو څیړونکو لمخی ئی ژوند تر ۱۱۴۵هـ. ق. پوری باوری و، خو د هغه د شرغۀ الاسلام نومی کتاب په پیداکېدو سره سم، معلومه شوه چی تر ۱۱۴۸هـ. ق. کال پوری خو ژوندی و، څکه چی کتاب ئی هم په همدی کال پای ته رسولی دی. مزار ئی د ماشو (یا ماشوکګر) په لویه هدیره کی دی.

د حمید مومند په آثارو کی ده لاندی کتابونه تر اوسه پیدا شوی او خپاره شویدی:

ketabton.com - The Digital Library



۱ – دیوان: د حمید دیوان د اتکل لمخی د هغه په پخپل ژوند کی راټول شویدی، په ادبی کړیو او محافلو کی (دُرو مرجان) په نوم هم یاد شویدی. عبدالحمید مومند وروستی چاپ شوی دیوان تر ټولو بشپړ دیوان دی چی (۲۹۰) غزلی، قصیدی، یو مخمس، یو ترکیب بند، او دوه څلوریزی لری چی د بیتونو شمیر ئی (۲۹۳۲) ته رسیږی.

۲ – شاه او ګدا: د حمید بابا یو زیاړل شوی منظوم داستانی اثر دی. او د فارسی نه ئی پښتو ته اړولی دی. شاه او ګدا په فارسی ژبه د هلالی چغتائی اثر دی.

۳ – نیرنګ عشق: دغه اثر په فارسی ژبه د مولانا محمد اکرم غنیمت په قلم لیکل شوی او حمید مومند په خوږه او روانه شاعرانه ژبه پښتو کړی دی.

۴ – شرعۀ الاسلام : دغه اثر په عربی ژبه لیکل شویدی او لیکوال ئی د بخارا مفتی امام الواعظ محمود بن ابی بکر الحنفی دی. حمید مومند د پیغمبر (ص) د سنتو په اړه په پښتو نظم ژباړلی دی. ددغه کتاب بشپړه نسخه چی ۱۵۰۰۰ بیته ده تر اوسه نه ده پیداشوی، خو نیمائی کتاب ئی چی اوس تر لاسه شوی بیتونه ئی (۷۳۶۰) ته رسیږی.

**هلالی چغتائی**: د نهمی هجری پیړی د پای او لسمی هجری پیړی د پیل شاعردی، هلالی چغتائی د پارس په آستر آباد کی زیږیدلی دی، او په هرات کی لوی شویدی خپل نوم ئی بدرالدین دی، په ۹۳۶هـ. ق. کال وژل شویدی.

**هندی مکتب یا سبک**: دا چی په فارسی یا پښتو ادب او شاعری کی د هند مکتب اصطلاح سمه ده که د هندی سبک، څیړونکی بیلابیل نظرونه لری. اروابناد محمد حیدر ژوبل د هندی سبک ځانګړنی داسی شمیرلی دی:

۱ – باریک مضمونونه، پیچلی افکار، غیر طبیعی خیالونه، خاصی استعاری، کنائی او تشبیه ګانی او ډیره زیاته خیالبافی.

۲ – له ژوند نه شکایت، د ژوند د کړغیړنو اړخونو بیانول.

۳ – د اغراق او مبالغی په ډول د غم، درد او خپګان څرګندولو ته تمایل.

۴ – ویاړ او غرور او په شعر کی د خپل مقام په لوړتیا فخر کول.

۵ – له حده زیاته مبالغه او اغراق.

**انتقادي متن**: پخوانیو شاعرانو دیوانونو د انتقادی متن ترتیب دی ته وائي چی د بیلابیلو قلمی او چاپی نسخو څخه یو داسی متن برابر شی چی کره او سم وی. **خو** په حقیقت کی له بیلابیلو نسخو د یوی کره نسخی برابرولو ته انتقادی متن وائي.

ketabton.com - The Digital Library



# احمد شاهی شهنامه

احمد شاهی شهنامه د وخت د پښتو په اړه یو منظوم اثر دی. چې د احمد شاه بابا په امر د هغه د مهال یو شاعر حافظ گل محمد مرغزی لیکلی او په ۱۱۷۶هـ.ق. کال ئی بشپړی کړیدی.

**شهنامه:** شهنامه هغه اثر ته ویل کېږی چې تر ډیره حماسی بڼه لری، د واکمنانو، امیرانو، پاچاهانو، او پهلوانانو د حالاتو او پوځی کارنامو په اړه کښل کېږی.

او یوازینی قلمی نسخه ئی د انگلستان په بریټیش موزیم کی ساتل کېږی.

حافظ گل محمد مرغزی د زوکړی ځای او خاړپوخو مېنه مرغزه کلی دی، چې د پیښور شمال شرقی لورته د صوابی په شاوخوا کی واقع دی. په ۱۱۲۶هـ. کال زیږیدلی او او د شهنامی د بشپړولو په کال ئی ۱۱۷۶هـ. ق. عمر ۵۰ کالو ته رسیدلی و، ژوند ئی تر ۱۱۷۹هـ.ق. کال پوری باوری و. او د شهنامی د ټولو بیتونو شمیر ۴۰۰۰ ته رسیږی.

احمد شاهی شهنامه ۳۶ بحثونه او فصلونه لری. او د مثنوی په بڼه لیکل شویدی او د هری مصری سیلابونه ئی اته او کله کله نهه دی.

## د پښتو ادبیاتو اوسنۍ (معاصره) دوره

په افغانستان کی په ۱۲۸۲هـ.ق. کال کی او په ۱۸۷۰م کال کی لومړی مطبعه فعاله شوه.

په افغانستان کی لومړی معلومه جریده شمس النهار نومیده په ۱۲۹۰هـ.ق. کال او ۱۸۷۴م کال کی خپره شوه.

د امیر حبیب الله خان په وخت کی لومړی د مولوی عبدالرؤف کندهاری په مشری د ((سراج الاخبارافغانستان)) په نوم جریده خپره شوه، چې د یوی گڼی وروسته ئی د خپریدو لړی بنده شوه. او وروسته د ژورنالیزم پلار محمود طرزی په مشری د ((سراج الاخبار افغانیه)) د جریدی خپرونی د پښتو ادب پر وده لوی اغیز وکړ.

په ۱۹۰۳م کال کی په کابل کی ((حبیبیه ښوونځی)) جوړ شو،

ketabton.com - The Digital Library



د مشروطیت غورځنګ په افغانستان کی ۱۹۰۵م کال کی پیل شو. او معاصر ادب په لره پښتونخوا کی د۱۹۱۰م کال شاوخوا د (افغان) جریدی په خپریدو سره پیلیږی.

په افغانستان کی د سراج الاخبار د دویم ځل (۱۹۱۱م ) کال کی په خپریدو سره د معاصر ادب بنسټ کېښودل شو.

# غنی خان – نه هیریدونکی شاعر

غنی خان د خان عبدالغفار خان زوی دی، په ۱۹۱۴م کال کی د پښتونخوا د هشنغر په اتمانزو کی زیږیدلی دی. په ۵ کلنۍ کی ئی مور له نړی سترګی پټی کړی او پلار ئی دژوند اوږده کلونه دهندوستان د انګریزی حکومت په زندانونو کی تیر کړل.

لومړی زده کړی ئی داتمانزو په آزاد ښوونځی کی ترسره کړی. په ۱۹۴۵م کال کی د هندوستان پارلمان ته انتخاب شو او ښه وځلید. د هندوستان له بیا ویشلو وروسته غنی خان ونیول شو او ۶ کاله د پاکستان په زندانونو کی تیر کړل.

د غنی خان شعرونو لاندی ټولګی چاپ شویدی:

۱ – د پنجری چغار: دا د غنی خان د شعرونو لومړی ټولګه ده، د زندان له فریادونو ئی جوړ کړی دی.او په ۱۹۵۳م کال کی دغه مجموعه د هریپور په جیل کی بشپړه کړیده، او په ۱۹۵۶م کال کی په پیښورکی چاپ شویده.

۲ – د غنی خان پلوشی: دا مجموعه په ۱۳۳۹م کال کی په کابل کی د پښتو ټولنی لخوا چاپ شویده.

۳ – پانوس : دغه کتاب په ۱۹۸۷م کال کی په پیښور کی چاپ شویده، د پنجری چغار او پلوشی سربیره یکی نور نوی شعرونه هم راغلی دی.

۴ – د غنی کلیات: د غنی د شاعری کلیات په ۱۳۶۴هـ. ش. کال په کابل کی چاپ او خپاره شویدی.

دغه نومیالی شاعر په ۱۹۹۶م کال کی په پیښورکی له نړۍ سترګی پټی کړی.

**سبک:** هغی ځانګړی لاری ته ویل کېږی، چی د یو کار د ترسره کولو او د یو څه شی په جوړولو کی کارول کېږی. اسلوب او قاعده ئی هم ګڼلی شو. په حقیقت کی سبک د یو اثر او یا یو لیکوال د آثارو د ځانګړنو او مشخصاتو ټولګه ده.

**فلسفی شاعر:** غنی خان یو لیکوالو په دی نامه هم یاد کړی دی. د هغه ډیر شعرونه د یو ډول لیونی بغاوت بیلګی دی چی فلسفی رنګ هم لری. له همد کبله ځنیو لیکوالو لیونی فلسفی بللی دی.

ketabton.com - The Digital Library



**طنزیه شعر:** هغه شعر ته ویل شوی چی د طنز او مزاح رنګ ولری. په دغه ډول شعرونو کی ژور اجتماعی او انتقادی مطالب د خندا او ټوکو په قالبونو کی رانغاړل کېږی.

# په بهر کی د پښتو پوهان

د اتلسمی میلادی پیړی په وروستیو کی پښتو ژبی، ادب، تاریخ او کلتور ته د استعماری ځواکونو (ثار روسیی او انګریزانو دواړو) پاملرنه را اوووښتی وه.

په روسیه کی د پښتو په باب کارونه لومړی په جرمنی ژبه شروع او بیا پکی انګریزی ژبه هم داخله شوه.

په ۱۷۹۱م. کال کی د ګولډن شتیت پښتو جرمنی قاموس هغه وخت د روسیی په پلازمېنه ((سنټ پترزبورګ)) کی خپور شو. د کلا پروت هغه اثر چی په جرمنی ژبه (د افغانانو ژبه) په نوم خپور شویدی.

**بوریس اندرییویچ ډورن:** په ۱۸۰۵م. کال کی په جرمنی کی زیږیدلی او هلته ئی لوړی زده کړی په ختیځ پوهنه کی ترسره کړی. په سروسیه کی د خارکوف او پترزبورګ په پوهنتونونو کی د ختیځو ژبو استاد او بیا د پترزبورګ د عمومی کتابتون مشر و. د نوموړی په برکت په روسیه کېد پښتو ژبی د تدریس لړی پیل شوه. د ډورن ((پښتو منتخبات)) د ډیر ارزښت وړ اثر دی.

**هنری جورج راورټی :** دا په ۱۸۲۵م. کال کی په انګلستان کی زیږیدلی او په ځوانی کی ئی په هندوستان یو شمیر ژبی زده کړی او کله چی پښتونخوا ته تبدیل شو، خپله ټوله پاملرنه ئی پښتو ژبی ته واړوله. پښتو انګلیسی قاموس او د ((ګلشن روه)) په نوم کتابونه ئی د ډیر ارزښت وړ دی. په ګلشن روه کی له سریزی وروسته د نظم او نثر خو بیلګی راغلی دی.

**هنری والټر بیلیو:** په ۱۸۳۴م. کال کی په هند کی زیږیدلی دی. د پښتو او پښتنو په اړه ئی زیات آثار لیکلی دی. ((پښتو ګرامر)) او ((پښتو ډکشنری)) ئی ترټولو مشهور دی نور ډیر آثار ئی هم لیکلی دی.

**تور برن:** تور برن په بنو کی د برتانوی هند د حکومت د یو مامور په توګه کار کاوه. وروسته ئی دپښتنو له ژوند، فولکلور، متلونو، کیسو او سندرو سره ځانګړی مینه پیدا شوه. هغه ئی راټول او په ۱۸۷۶م. کال کی ئی د ((بنو – زموږ افغانی سرحد)) په نوم چاپ او خپ،ر کړ.

**جیمز ډار مستټر:** دغه ختیځ پوه او پښتو پوه په ۱۸۴۹م . کال کی په فرانسه کی زیږیدلی دی. په پاریس کی ئی په ادبیاتو کی تر دکتورا پوری زده کړی وکړی. په ۱۸۸۶ ــــ ۱۸۸۷م. کلونو کی په هند کی د

ketabton.com - The Digital Library



ژبنيو پلټنو دنده وروسپارل شوه. په بمبئی، پېښور او هزاره کی ئی خیړنی ترسره کړی. د نوموړی مهم اثر ((د پښتو د شعر هار و بهار)) نومیږی.

**پروفیسر مارگن ستیرن:** په ۱۸۹۲م. کال کی په ناروی کی زیږیدلی دی او د اروپا په بیلابیلو پوهنتونونو کی ئی د هندو آروپائی ژبو د تدریس چاری پرمخ بیولی. د پښتو ژبی د څیړنی په موخه ئی افغانستان ته سفرونه وکړل.

# اضافی معلومات

**روسی خاران:** د روسی له واکمنانو څخه و کورنۍ سلسله ئی د خارانو په نامه یادیږی. (خار) د (تزار) پّ نامه هم یاد شوی خو اصلی بڼه ئی په روسی ژبه کی (خار) دی.

**ستراتیژیکه ساحه:** دغه اصطلاح هغو سیمو ته کاروله کېږی، چ د جعرافیائی موقعیت له پلوه ډیره مهمه ویره د افعانستان او پښتونخوا موقعیت ته له جعرافیائی پلوه څکه د ستراتیژیک موقعیت سیمه ویله کېږی چی د هندوستان – منځنۍ آسیا او چین تر منځ پرته ده.

# الف جانه ختک

دا په ۱۹۲۷م. کال کی د پښتونخوا د کوهاټ په احمدی بانډه کی زیږیدلی ده. تر اتم ټولگی پوری ئی زده کړی وکړی او نوری منظمی زده کړی تری پاتی شوی. او وروسته ئی په شخصی توگه زده کړو ته دوام ورکړ او تر ماسټرۍ پوری ئی زده کړی وکړی. او ډیره موده د ښوونکی په توگه د نجونو په یوه ښوونځی کی دنده تر سره کړیده.

**عاطفه:** هغه روانی اغیز یا غبرگون دی چی له بهرنیو څیزونو، چارو او پیښو سره د مخامخ کېدلو په وخت کی په ذهن کی رامنځته کېږی لکه: محبت، شوق، کینه، قهر او نور.......

**له تاریخ نه مخکی دوره:** دا هغه دوره ده چی لیک یا خط نه و ایجاد شوی. په تاریخی څیړنو کی ددغی دوری څیړل څکه ډیر اهمیت لری او ستونزمن کار دی چی لیکلی اسناد ئی نشته.

**خیال بخاری:** اروابناد خیال بخاری د پښتو تکړه لیکوال و. د پیښور د پښتو اکېډیمۍ له نومیالیو څیړونکو څخه و. د ژبنيو او گرامری څیړنو په برخه کی ئی ډیر کار کړیدی.

ketabton.com - The Digital Library



# شفیق او پښتو لنډه کېسه:

محمد موسی شفیق د افغانستان نومیالی شاعر، عالم، سیاستوال، او لیکوال و. د ننگرهار د کامی اصلی اوسیدونکی دی، او پخپله په ۱۳۰۸هـ.ش. کال په کابل کی زیږیدلی دی، د لومړنیو او ثانوی زده کړو وروسته ئی په شرعیاتو، حقوقو او سیاسی علومو کی په مصر او امریکا کی د ماسټرۍ تر درجی لوړی زده کړی وکړی. او د سفیر، وزیر او صدراعظم دندی تر سره کړی او په ۱۳۵۷هـ.ش. کال کی د سردار داود خان په کودتاه کی شهید کړای شو.

لاندی آثار ئی چاپ شویدی:

۱ – پیغام (د شعرونو ټولگه)

۲ – عبقریان (د لنډو کیسو ټولگه)

۳ – د ننگرهار شاعران.

د شفیق د لنډو لیسو یوه ټولگه د ((عبقریان)) په نوم په ۱۳۴۶م. کال په کابل کی خپره شویده. په دغه مجموعه کی په دری ژبه د هغه یوه لنډه کیسه د ((عبقریان)) تر سر لیک لاندی او دغه نوری څلور پښتو لنډی کیسی خپری شوی دی، ((هفته کودک))، ((ډاکتر صاحب))، ((دتمی کاوران))او ((برکت)) دغه ټولی کیسی هغه په ۱۳۳۸او ۱۳۳۹هـ.ش. کلونو کی لیکلی دی.

د شفیق د لنډو کیسو ځانگړنی:

۱ – د لنډو کیسو نثر ئی داستانی دی.

۲ – د طنز برخه ئی مهمه ده او د طنز مالگه د هغه په ټولو کیسو کی شته.

* - **جامی:** په افغننستان کی دری ژبی د کلاسیکو ادبیاتو نومیالی خیره ده. بشپړ نوم ئی نورالدین عبدالرحمن جامی و. په هرات کی زیږیدلی او د ژوند دوران ئی له (۸۱۷څخه تر ۸۹۸هـ.ق. ) کال پوری دی. په آثارو کی ئی د بهارستان زیات شهرت لری.

# په پښتو کی ناول لیکنه:

ناول کلمه انگلیسی ده او ویل کېږی چی د ایټالیائی (نو ویلا) څخه اخیستل شویده، چی د (نوی یا کوچنی) په معنی ده.

ketabton.com - The Digital Library


په اروپائی هیوادونو کی د ناول پر ځای د رومان اصطلاح کارول کېږی، خو موږ دلته دواړه د واحد داستانی اثر لپاره کاروو.

د رومان د حجم په اړه بیلابیل نظرونه ورکړل شوی دی. چی له دیرش څخه تر څلویښت او پنځوس زره کلمو پوری کم حد ورته ټاکل شویدی، او تر دی هم زیاتیدلای شی.

لومړی دوه ژباړل شوی ناولونه چی نقش نگین یا ((مرآة العروس)) او ((توبة النصوح)) دواړه ناولونه په اردو ژبه د هند د نومیالی لیکوال او شاعر ډپټی نذیر احمد خان په قلم لیکل شویدی. مرآة العروس د ((نقش نگین)) په نامه په ۱۸۷۷م.کال کی ژباړل شوی او په ۱۹۵۷م. کال په پیښور کی چاپ شویدی، د اروابناد میا حسیب گل کاکاخیل لخو او توبة النصوح په ۱۹۰۴م. کال کی ژباړل شوی او په همدی کال کی چاپ شوی هم دی، د اروابناد میا محمد یوسف کاکاخیل لخوا په پښتو ژبه ژباړل شویدی.

او د ډپټی احمد خان د اردو ژبی لومړی ناول لیکوونکی گڼل کېږی.

په کوزه پښتونخوا کی په پښتو کی لومړی ناول د پیاوړی لیکوال سید راحت زاخیلی په قلم شوی د ((نتیجهٔ عشق)) یا ((ناول د ماه رخی)) په نوم کښل شوی او په ۱۹۱۰م. کال کی په پیښورکی چاپ شویدی.

په ۱۹۵۰م کال کی د صاحبزاده محمد ادریس ((پیغله)) نومی ناول چاپ شو.

په ۱۹۵۷م کال کی د اشرف درانی لیکلی ناول د ((زرکی سترگی)) په نوم خپور شو.

او ۱۹۵۷م کال کی د حمزه شینواری ((نوی چپی)) نومی ناول چاپ شو.

دلته په پښتو ژبه لومړی لیکل شوی ناول د برهان الدین کشککی په قلم ژباړل شوی او په ۱۳۱۷هــ.ش. کال کی خپور شوی دی.

# ویکتور هوگود فرانسی نومیالی لیکوال

ویکتور هوگو په ۱۸۰۲م. کال د فرانسی په ختیځ (بیزانسون) کی زیږیدلی دی. نیکه ئی د یو داسی بزگر زوی و چی د (نانسی) په ښار کی ترکاڼی هم کوله. پلار ئی په پوځ کی خدمت کاوه او تر جنرالی تر درجی ورسید او د هوگو مورد یو بیړی وان لور وه.

لومړی ئی په پاریس کی زده کړی پیل کړی او وروسته ئی په ریاضی، شعر او لاتینی ژبه کی بی ساری پرمختگ وکړ. او په پاریس کی ئی له یوی پوځی کورنۍ سره اړیکی پیدا کړی او په دی کورنۍ کی د (ادل) په نوم له یوی نجلۍ سره مینه پیدا شوه او په پای کی ئی ورسرله واده وکړ.

ketabton.com - The Digital Library



هوګو د پاریس په دارالفنون کی زده کړو ته دوام ورکړ، همدلته ئی خپل لومړی شعرونه وویل: لومړنیو شعرونو ئی د ښوونځی جایزه وګټله. د فرانسی یو نومیالی شعر او لیکوال (شاتو بریان) هغه ته د یو (عالی ماشوم) نوم ورکړ.

د خپل ورور سره ئی پنځلس ورځنی مجله هم خپره کړه. چی په دی مجله ئی خپل نوم او نوری ډیری مقالی خپری کړی، او د دربار ستاینی ئی هم وکړی او د پاچا له لوری ورته جایزی هم ورکړل شوی او د دوو زرو فرانکو تنخواه یوه دنده هم ورسپارل شوه.

هغه د خپل فکر لپاره د ((کرمول)) په نوم یوه ډرامه او د ډرامی سریزه لیکی. دغه ډرامه او سریزه ئی دومره اهمیت پیدا کوی چی په فرانسه کی د رومانتیزم د ادبی مکتب پیل ګڼل کېږی.

په ۱۸۴۱م. کال کی هوګو له دری ځلی ماتی وروسته د فرانسی د اکاډمی په غړیتوب ومنل شو. د فرانسی پاچا له هوګو سره ځانګړی دوستی لرله.

په ۱۸۴۸م. کال کی په فرانسه کی اړ و دوړ شروع شو. او د یو بل نامتو شاعر پواسطه ((لامارتین) د هوګو په مرسته وراندیز وکړ چی یو موقت حکومت دی جوړ شی او دی یکی د وزیر په څوکی وټاکل شو. او د سلطنت ضد ډلو کلک ملګری شو، او له همدی نیتی وروسته ئی د فرانسی له پاچا ناپلیون سره دښمنی پیل شوه.

کله چی ناپلیون پاچا شو غوښتل ئی چی یو قوی ګوند جوړ کړی، نو په دی ګوند کی هوګو د ناپلیون سره مخالفت پیل کړ، خو ناپلیون بریالی شو د هوګو په ګډون ۸۴ تنه د عامه امنیت د تخریبوونکو په نوم له فرانسی څخه تبعید کړل. هغه لومړی بروکسل او بیا انګلستان ته لاړ او هلته ئی د ((ژرسی)) او ((کرنسی)) په جزیرو کی د تبعید عمر تیر، او په دی وخت کی ئی خپل په زړه پوری اثار ولیکل.

په ۱۸۷۰م. کال کی له ۱۹ کلن تبعید وروسته فرانسی ته راستون شو، او په ۱۸۸۵م. کال کی د ۸۳ کالو په عمر مړ شو.

په لیکل شوو کتابونو کی ئی ((بینوایان)) زیات شهرت لری. او نور مهم ئی په لاندی ډول دی:

هغه سړی چی خاندی، د خزان پاڼی، بدمرغان، مکافات، انتقام، سمندری کارګران او یو شمیر نور ........

# د رومانتیزم ادبی مکتب:

د نړۍ په مشهورو کی ځینی ئی دادی: کلاسیسیزم، رومانتیزم، سمبولیزم، ریالیزم او نور ..... رومانتیزم ادبی مکتب د اتلسمی پیړۍ په پیل او نوولسمی پیړۍ په پای کی په اروپا کی راڅرګند شو. مخکښان ئی په اروپا کی ویلیامبلیک او کاریج، په جرمنی کی: ګویته او شیلر او په فرانسه کی ویکتور هوګو، شاتو بریان او لامارتین دی. څیړونکو ۱۸۳۰م. کال د ادبی انقلاب کال ګڼلی دی.

ketabton.com - The Digital Library

ترتیب کوونکی: پرویز دانش

# مقاله څنګه ولیکو؟

مقاله، لیکنی ته وائی، خو هغه لیکنه چی نسبتاً لنډه وی. مقاله په نثر سره هغه لیکنه ده چی لیکونکی ئی د یوی ځانګړی موضوع او مطلب د څرګندولو لپاره لیکی. په مقاله کی لیکونکی د خپل نظر وړ ټکی بیانوی.

مقاله له رسالی (یا کتاب ګوټی) سره له دوو اړخونو څخه توپیر لری. لومړی دا چی د رسالی په نسبت د مقالی لمن لنډه – تنګه ده. بله خبره داده چی د رسالی په پرتله د مقالی مخاطبین او مینه وال زیات دی.

د دوه ډوله مقالو لیکلو ته مو باید فکر وی:

عامي یا عادی یا اخباری مقاله: ددغو مقالو لوستونکی مخاطب وی، او د داسی لیکنو مینه وال عام خلک دی ډیر لوستونکی لولی او ډیره تخصصی او ځانګړی بڼه نه لری.

ددی مقالی له لیکلو مخکی باید دغو ټکو ته پام وکړی:

۱ – موضوع مو باید د وخت مطابق مهمه او ارزښتمنه وی او په خپله به هم باوری یاست چی نوی به وی.

۲ – د موضوع له انتخاب وروسته باید هغو ټکو ته پام وکړی چی دهمدی موضوع په لیکلو کی مو مطرح او څرګند کړی وی. او له همدی باید هدف هم څرګند کړی او د هدف لپاره باید سندونه، فکتونه(فاکتونه یا سندونه) او حقایق له ځان سره یاداشت کړی.

۳ – د مقالی له لیکلو مخکی باید یو چوکاټ د مقالی لپاره په یو کاغذ کی جوړ کړی او تر څو اصلی ټکی پکی ولیکی او فکر پری وکړی.

۴ – موضوع ته اوږدی سریزی مه ورکوئ، مستقیماً خپل مطلب ته راشئ، لومړی د خپلی موضوع په اړه خبری وکړی او بیا وروسته تفصیل ورکړی.

۵ – له یوی موضوع څخه بلی او له بلی موضوع څخه بلی موضوع ته ټوپونه مه وهئ، یعنی له خپلی اصلی موضوع څخه مه بهر کیږئ. بیا لوستونکی درسره تنګیږی.

۶ – خبری باید ډیری سختی او پیچلی نه وی. په څومره اسانی سره چی کولای شی خپل مطلب بیان کړی، او د خپلی موضوع لپاره دلایل راوړئ، تر څو موضوع ښه واضح شی او لوستونکی ستاسی د اصلی هدف د پیداکولو لپاره پر خپلو مغزو فشار رانه وړی، او یا دی ته اړ نه شی چی بیا بیا ئی ولولی.

۷ – د خپلی موضوع تسلسل، د خپلی لیکنی تسلسل او د خپلو خبرو تسلسل در څخه ګډوډ نه شی، کوښښ وکړئ، چی هر څه په ترتیب سره بیان کړئ.

ketabton.com - The Digital Library



۸ – په لیکنه کی د کلماتو په لوبو پسی مه گرځئ. دی ته ساده ټکو کی لفاظی وائی او تاسو باید هڅه وکړئ چی له لفاظی‌څخه ځان وساتئ. موضوع د بیان په ډول یا الفاظو کی داسی مه رانغاړئ چی وغواړئ مقاله مو په اصطلاح ډیره نغاړلی راشی. نه په دغو مقالو کی غوڅه خبره غوره ده.

۹ – کله چی لیکنه مو بشپړه کړه، یو ځل بیا ئی په غور او دقت ولولئ. لازم سمون پکی راولئ. بیا ئی هم د لوستونکی په توگه په انتقادی نظر ولولئ او هر کله چی ډاډه شوی چی په لیکنه کی مو خپل هدف ته رسیدلای یاست او لوستونکو ته به هم خپل مطلب ورسولای شئ، نو بیا د خپریدو نیت وکړی.

## علمی یا څېړنیزه مقاله:

علمی مقالی په خپله تخصصی لیکنی او څیړنی دی. دغه مقالی زیاتره په یوه علمی څانگه کی د متخصصو کسانو له خوا لیکل کېږی او پر څیړنیز اړخ ئی ټینگار کېږی.

د یو علمی او څیړنیزی مقالی لپاره لاندی ټکو ته پام وکړی:

۱ – د پر له پسی لوستلو (مطالعی) وروسته د یوی داسی موضوع انتخاب چی ستاسو په نظر نوی وی، که څیړنی پری شوی وی او نیمگړتیاوی لری او غواړی چی د موضوع په اړه نوی ټکی څرگند کړی، نو دغه موضوع د زیات لټون او مطالعی غوښتنه کوی.

۲ – ټول هغه کارونه چی د همدی موضوع په اړه ستاسو د مخه شویدی په دقت سره ولولئ او په لازمو برخو تری یادښتونه واخلی او له دغو یادښتونو په مقاله کی تری گټه واخلئ، یادښتونه په یوه جلا کاغذ کی لیکئ. پر پاس څنډه به د یادښت موضوع لیکئ. بیا به یادښت لیکئ او په پای کی به د کتاب نوم، لیکوال، د چاپ کال، وخت او د یادښت شمیره لیکئ. چی بیا به اخځلیکونو کی تری گټه اخیستل کېږی.

۳ – د یادښتونو له بشپړیدو وروسته د خپلی مقالی لپاره یو چوکاټ جوړ کړئ. د موضوع تسلسل ته لازم غور وکړی، او پر چوکاټ بیا نظر واچوی.

۴ – خپله لیکنه په پوره غور او دقت سره ولیکئ.

۵ – خپله لیکنه بیا بیا ولولئ، سمونه پکی وکړئ او هر کله چی پر خپله لیکنه ډاډه او باوری شوئ نو مقالی د خپریدو لپاره وسپارئ.

## پوهاند عبدالحی حبیبی لیکوال او څېړونکی

ketabton.com - The Digital Library



عبدالحی حبیبی په ۱۲۸۹هـ.ش. کال په کندهار ښارکی زیږیدلی دی. د کندهار په ښوونځیو کی ئی لومړنی زده کړی وکړی. بیا په کندهار کی د ((طلوع افغان)) جریدی مرستیال او ورپسی ددی جرندی د مسؤول چلوونکی په توګه وټاکل شو، لس کاله ئی دغه جریده وچلوله.

د کابل د ادبیاتو پوهنځی د تاسیس سره سم ئی نوموړی لومړنی رئیس وټاکل شو.

په ۱۳۲۷هـ.ش. کال کی د کندهار د خلکو لخوا د ولسی جرګی غړی شو. پوهاند له علمی، ادبی، او ملی خدمتونو وروسته په ۱۳۶۳هـ.ش. کال کی د ثور په شلمه نیټه په کابل کی له نړی سترګی پټی کړی او په ((شهدای صالحین)) کی خاورو ته وسپارل شو.

دلته ئی د ځینو کتابونو نومونه اخلو:

د پښتو ادبیاتو تاریخ((دوه ټوکه))، افغانستان بعد از اسلام، پښتانه شعراء(لومړی ټوک)، نومړکی مؤرخین، جنبش مشروطیت د افغانستان، د پښتو ادب په تاریخ کی قصیده. د افغانستان پیښلیک، تاریخ افغانستان او.....

## اوستا:

اوستا د آریائی زړو ژبو له ډلی څخه ده چی اوس مړه شوی ده. اوس مړه شویده. دغه ژبه د (زند) په نوم هم یاده شویده. څرنګه چی د زردښتی دین، مذهبی کتاب اوستا نومیږی. او دا د نوموړی ژبی او دین په باب یوازینی راپاتی مستند کتاب دی. نو دا ژبه هم د اوستا په نوم یاده شوه. او له پښتو سره زیاته ورته او نږدی ده.

## شراب یا الکول

د شرابو زیانونه په لاندی ډول دی:

۱ – د هاضمی په سیستم کی د سرطان مرضونه رامنځته کیږی.

۲ – د ینی یا ځیګر د سرطان سبب کیږی.

۳ – د خیټی (معدی) پرسوب رامنځته کوی.

۴ – د زړه ټکان زیاتوی او د زړه د حملو سبب کیږی.

۵ – اعصاب سخت کمزوری کوی او حافظه له منځه وړی.

۶ – د انسان عمر لنډوی.

۷ – بی اشتهائی رامنځته کوی.

ketabton.com - The Digital Library



# د شعر په اړه څرګندونې

د شعر په اړه بېلابېلې نظرئې دي:

* شعر هغه کلام دی چې وزن او تخیل ولري.

- ✓ آزاد شعر هغه شعر دی چې قافیه پکې حتمي نه ده، وزن ئې په عمومي ډول د يو شعر په کلیت کې په پام کې نيول کېږي. او وزن ئې د د کومې ټاکلي بيلګې تابع نه دی. په آزاد شعر کې وزن د يو ډول طبيعي آهنګ او موسيقۍ تابع وي.
- ✓ سپين شعر بيا هغه شعر ته ويل کېږي چې قافيه ونه لري.

د شعر په تعريفونو کې په ځانګړي ډول دغه ټکي په پام کې نيول کېږي.

(( تخيل، جذبات (يا احساسات) ښکلا، عواطف، خوند، مفکوره (په بله معنا د واقعيت انګازه او نور....))

((* شعر په وزن لرونکې ژبې سره د مفکورې او تخيل عاطفي ترکيب ته ويل کېږي.)

# ادبي کره کتنه

ادبي کره کتنه د ادبي آثارو د هر اړخيزې ارزونې په معنا ده چې د دغو آثارو ښکلاوې، ارزښتونه او نيمګړتياوې په نښه کوي. د ادبي کره کتنې له لارې لوستونکي پوهيږي چې کووم ادبي اثر عالي، ځلاند او پياوړی، کوم منځنی او کوم يو کمزوری دی؟

د کره کتونکي دنده داده چې لوستونکي ته څرګنده کړي چې په دې يا هغه ادبي اثر کې مهم ارزښتونه، لوړې ښکلاوې او پياوړتياوې کومې کومې دي، يا ددغه اثر او هغه اثر کمزورتياوې او نيمګړتياوې کومې دي؟

او مهمه خبره داده چې کره کتونکي کولای شي خپل احساسات داسې مهار (قابو يا په خپله ولکه کې راوستل) کړي چې ديو ادبي اثر اساسي ارزښتونه تری پټ پاتې نه شي.

لاندې ټکو ته تم کېږو تر څو کره کتونکي دنده باندې پوهه شو.

۱ – د کره کتونکي اصلي موخه داده چې هر هغه څه چې ليکل شوي او موجود دي بايد تحليل او توصيف کړي،بيلابيل اړخونه ئې وڅيړي او د بيلابيلو برخو اړيکې ئې وارزوي.

۲ – ادبي کره کتونکي بايد ددې ځنګ له ښکلا پوهنې، ټولنپوهنې او ارواپوهنې سره هم اړيکې له پامه ونه غورځوي.

ketabton.com - The Digital Library



**۳ – ادبي کره کتونکی د ادبي بهیر په وده او بشپړتیا کې پوره ونډه لري.**

**خیړونکو د ادبي کره کتنې لپاره لاندې درې شرطونه لازم ګڼلي دي.**

**۱ ذوق ۲- پراخ ادبي معلومات او اطلاعات ۳- تجربه او زیات تمرین**

**۱ – ادبي ذوق: د ادبي اثارو د پیاوړتیا او نیمګړتیاوو د څرګندولو غوره عامل دی. ذوق له دوو برخو جوړ دی، فطري استعداد او بل ادبي او هنري تربیت چې اکتسابي(زده کېدونکی) بڼه لري.**

**۲ – هغه څوک چې بڼه ادبي ذوق ولري، که چېرې د زیاتې مطالعې، لوستنې او څېړنې ستونزې پر ځان ومني، کولای شي د ادبي اثارو غوره ارزونکی او کره کتونکی شي.**

**۳ – کره کتونکی ته لازمه ده چې د کره کتنې کار ته د یو عادي او سرسري کار په سترګه ونه ګوري، پرله پسې تجربې ترلاسه کړي، بیا بیا تمرین وکړي او وتوانیږي چې یو بڼه کره کتونکی شي.**

**د ادبي کره کتنې ځینې ډولونه په لاندې ډول دي:**

**سنتي نقد، تاریخي نقد، فلسفي نقد، فورمولیستي (شکلي) نقد، ارواپوهنیز نقد، اجتماعي نقد او نور......**

# Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*